مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۳/۰۹/۲۰

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(اتمه برخه)



له ښي خوا غازي جنرال یارمحمد خان وزیری؛ فخر افغان، خان عبدالغفار خان، پاچا خان او عبدالصمد خان اڅکزی، خان شهید.

**له غازي امان الله خان سره د کوزو پښتنو ملاتړ او د انګرېزانو غبرګونونه**

فضل عمر مجددي، مشهور په نور المشایخ یا شېرآغا چې د امان الله خان لخوا د خوست د بغاوت (۱۹۲۴ز) په تور له هېواده شړل شوی ؤ او دا مهال په ډېره اسماعیل خان کې اوسیده نو کله چې «نادر خان له فرانسې څخه د افغانستان پر لور وخوځید، نورالمشایخ ته یې خبر ورکړ چې افغانستان ته ولاړ، هغه وو چې **نورالمشایخ د هند د وایسرای په اجازه** افغانستان ته د بولان له لارې د پکتیکا په شرنه کې ځای پر ځای شو.»[1]

په دې اړه فخر افغان پاچا خان وایي:«په دغو ورځو کې موږ ته په ډیلي کې مالومه شوه چې پیرنګیانو د شور بازار د حضرت ورور [نورالمشایخ مجددی] چې په هندوستان کې په کاټهیاواړ کې اوسي راغوښتی او د هغه پاوندو پسې چې د هغه مریدان دي د امان الله خان بر خلاف افغانستان ته لیږي، ځکه چې پیرنګیانو ته مالومه شوي وه چې د خلکو څه نا څه همدردي له امان الله خان سره پیدا شوي ده او هسې نه چې هغه چېرته کامیاب شي.»[2]

فضل عمر مجددي په مناسب وخت کې د انګرېزانو لخوا لویې پکتیا ته ولېږل شو، «فضل عمر مجددي په پکتیکا کې د غلزیو او ملایانو یوه جرګه جوړه کړه، ملایان چې د شېرآغا له خوا پارول شوي وو د هغه [امان الله خان] پر ضد یې یوه بله مذهبي فتوا ورکړه.

شېرآغا د سقاؤ پر پلوۍ هم فتوا ورکړه، هغه وویل:«ځرنګه چې د سقاؤ زوی پایتخت او د اسلامي افغانستان پاچاهي ترلاسه کړې ده نو هغه په واقعیت کې یو پاچا دی او د خدای (ج) په نزد د هغه پر ضد جنګیدل اصولي نه دي. د سقاؤ

---

[1]: میرغلام محمد غبار: افغانستان در مسیر تاریخ. ۸۳۲مخ

[2]: عبدالغفار خان (باچا خان): زما ژوند او جدو جهد: ۳۴۶مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

زوی لومړنی نفر ؤ چي له شېرآغا څخه يې ليک ترلاسه کړ او په کي ويل شوي وو چي ما کندهار او جنوبي ولايتونو ته نفر استولي دي چي د امان الله پر ضد وجنګيږي او زه به ډېر ژر له کابل څخه لېدنه وکړم، د سقاؤ د زوی وررور هم په غزني کي چي هلته قوماندان ؤ د شېر آغا ليک ترلاسه کړ.»[3]

هلته په کندهار کي امان الله خان له سقاؤ سره د جګړي په موخه د ځواکونو پر ټولولو لګيا ؤ او هم يې د وزيرستان له قومونو څخه د مرستي غوښتنه وکړه. د ١٣٠٨ل. ل، کال د وري مياشتي په ١٢مه نېټه د کندهار د شاه جوی مهاجرو وزيرو يو مشر او د افغانستان د خپلواکي جګړې ګډونوال، غازي جنرال يار محمد خان په لاس يې ١٥ پاڼي فرمانونه وزيرستان ته ولېږل چي په فرمانونو کي له وزيرو، مسيدو، دوړو او تنيو قومونو څخه غوښتل شوي وو چي له سقاؤ سره د جګړي لپاره لښکر چمتو او په غزني کي د کندهار له ځواکونو سره يو ځای شي.[4]

په دې اړه امريکايي ليکواله ريه تالي ستيوآرټ مالومات وړاندي کوي چي «امان الله د خپلي ټولي خوشبختي په خاطر د نورو مرستو په انتظار کي ؤ او هغه کولی شول يوازې پر هغو قبايلانو باندې غږ وکړي چي په هند [وزيرستان] کي اوسيدل.

هغه [امان الله خان وزيرستان ته] يو عاجل ليک واستاوه چي په غزني کي ورسره يو ځای شي هغه دغه ليکونه يو مامور ته ورکړل چي ټيټه رتبه يې درلودله او روحاني جامه يې اغوستي وه، مګر څرنګه چي امان الله ورباندې ټينګار کړی ؤ چي ليکونه دې ژر ورسوي نو دا استازی په وزيرستان کي له هغه سړي څخه مرستي غوښتلو ته مجبور شو چي له بريتانويانو سره يې اړيکي درلودلې او هغه يې مکتوبونه ولوستل، بريتانويانو وويل: **مخلوع پاچا له خپله حده پښه وړاندي ايښي ده او آګاهانه يې تشبث کړی دی چي زموږ له قبايلو څخه د خپلو ګټو په ترلاسه کولو کي کار واخلي** او دې سړي چي ليکونه يې وړي وو، سمدستي پوه شو چي ورسره ښه سلوک کيږي او ميلمه پالنه يې هم په ښه وجه کيږي نو په هغه ځای کي پاتي شو او پاتي او بيخي پاتي شو*.[5]

ومو لوستل چي دا مهال غازي يارمحمد خان په وزيرستان کي د لښکر په ټولولو لګيا ؤ، انګريزانو ته د خپلو استخدام شويو جاسوسانو لخوا خبر ورسيد، انګريزانو کوښښ وکړ چي د لښکر ټولولو مخه ونيسي او په دې هڅه کي وو چي غازي يارمحمد خان د ١٢٩٨ل. ل، کال د خپلواکی د جګړې او له انګريزانو سره د نورو جګړو په تور بندي کړي.[6]

غازي يارمحمد خان وزيری ليکي:«فرنګيانو نه غوښتل چي د وزيرو او مسيدو قومونو جنګيالي د اعليحضرت غازي امان الله خان په پلوی د افغانستان د کورنی جګړې د اور مړ کولو لپاره ولاړ شي نو په هر لوري په خنډ اچولو او په قوم کي د بې اتفاقۍ راوستلو کوښښونه پيل کړل، د وانه پولټيکل (بريمنر) او تحصيلدار محمد نواز خان مروت او د توچي پولټيکل او تحصيلدار غلام حسن خان ته يې حُکم وکړ چي افغانستان ته د وزيرستان د لښکرو د تلو مخه ونيسي او هم يې د وانه پولټيکل او تحصيلدار ته وظيفه سپارلي وه چي غازي يارمحمد خان مړ او يا ژوندی ونيسي. فرنګيانو افغانستان ته د وزيرو او مسيدو د غيرتي ځوانانو د مخنيوي لپاره له الوتکو کاغذونه وغورځول او په کليو او باندو کي يې اعلانونه هم وځړول چي په کي ليکل شوي وو: **هر هغه څوک چي د يارمحمد خان مرياني په بلنه افغانستان ته د امان الله خان د امداد لپاره ولاړ شي، له موږ سره مجرم او جريمه به تاديه کوي. په اعلانونو کي دا هم ليکل شوی وو چي د تېرو [د افغانستان د خپلواکی] جګړو او زيانونو له امله يار محمد خان مرياني د هند حکومت لپاره مجرم دی او د مجرم ملګري او ورسره مرسته کول جرم دی.»**[7]

غازي يارمحمد خان زياتوي:«د غويي مياشتي په لومړۍ نېټه انګريزانو وانه ته چي د وزيرو لښکر په کي راټول شوی ؤ، انګريز پوليټيکل دو تنه استازي د شفاهي پيغام سره راولېږل چي په پيغام کي راغلي وو: **له هغي ګنټي چي مرياني يارمحمد خان په وزيرستان کي قدم ايښی دی او ستاسو په مرسته او همکاری يې د امان الله خان په پلوی د لښکر په راټولولو فعاليت پيل کړی دی، له موږ څخه پټ نه دی، موږ د خپلو سړيو [جاسوسانو] په ذريعه د مرياني يارمحمد خان هر قدم تعقيب او څارلی دی، اوس ستاسو خانانو او ملکانو څخه زموږ دوستانه هيله دا ده چي د يارمحمد د ملګری او د**

---

[3]: ريه تالي ستوآرټ: اور په افغانستان کي. ژباړن: د محقق مرستيال عبدالحسيب حکمي. ٧٠٣مخ

[4]: جرنيل يار محمد خان وزيري: د خپلواکی او نجات تاريخ. ١٧٢مخ. لومړی چاپ: ١٣٧٩ل. ل

(*): ښکاري چي ليکوالي ريه تالي ستيوآرټ پورته مالومات د انګريزانو له هغو ټلګرامونو اخيستي وي چي د موضوع په اړه په وزيرستان کي د انګريزانو مېشتو سياسي او پوځي ځواکونو له خپلو مقاماتو سره تبادله کړي وو، په دې اړه د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ د غازي يار محمد خان وزيري کتاب، دري ژباړه: (تاريخ استقلال و نجات افغانستان) تعليق شماره ( ۴) : تلګرامهای مسؤلين انګليس، مقيم وزيرستان در ارتباط به فعاليتهای غازی يار محمد خان وزيري در وزيرستان.

[5]: اور په افغانستان کي. ٦٨٧مخ

[6]: د خپلواکی او نجات تاريخ. ١٧۴مخ

[7] : د خپلواکی او نجات تاريخ. ١٨٥مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

امان الله په پلوی افغانستان ته د لښکرکشی څخه لاس واخلئ، هغه وخت [د افغانستان د خپلواکی په جګړه کې] چې تاسو د کابل د ملا (حاجي ملا عبدالرزاق خان) ملګري او د امان الله خان پلوي وکړه، هغه ترخه تجربه ستاسو په مخ کې پرته ده[8]، دا ځل بیا هغه ترخه تجربه مه تکراروئ، امان الله خان له کابله کندهار ته له خپلو ټولو خپلوانو سره فرار کړی دی، درست قومونه او پوځ د هغه پر وړاندې دربدلي دي، تاجیک او د پښتنو اکثریت غلجي قبایل د حبیب الله [سقاؤ] په ملګری د جنګ په ډګر کې ولاړ دي، د کندهار د درانیو په قبیلو کې د امان الله خان د پلوی او ملګری په اړه زیات اختلافات موجود دي او یو محدود شمېر دراني مشران په ظاهره د امان الله ملګري دي. زموږ د مالوماتو له مخې امان الله خان له هر طرفه مایوس او نا امیده شوی دی، نن او سبا هغه د خپلې کورنې د نژدې غړو په ګډون له کندهار څخه په فرار مجبور دی.
تاسو د وزیرو او مسیدو مشران چې مریاني یارمحمد د امان الله خان پلوی ته تحریک کړي یاست په داسې حال کې چې **قادیانی امان الله خان** په ټول افغانستان کې دوست او طرفدار نه لري، ستاسو تګ امان الله ته څه ګټه نه شي رسولی، بې له دې چې زموږ او ستاسو خانانو او ملکانو په منځ کې درز راپیدا کړي.[9]
د وزیرو مشر ملا صاحب همزالله چې له سلو کالو د ډېر عمر لرونکی ؤ د انګرېزانو استازو ته غوڅ ځواب ورکړ چې د راتول شوي لښکر مخه څوک نه شي نیولی.[10]
له بلې خوا د ۱۳۰۸ل. ل، کال د وري په ۶مه نېټه پاچا له ۱۴زره منظمو او قومي سرتېرو په ملتیا له کندهاره د کابل پر لور وخوځېد ... چې ۲۰ ورځې وروسته غزني ته ورسید او د غزني په بالاحصار چې د سقاؤ ۲زره پلویان په کې ځای پرځای وو، برید وکړ.
میرغلام محمد غبار وايي چې د دې سفر په اوږدو کې د بهرنیو او کورنیو مخالفینو تبلیغات او فعالیتونو جریان درلود، د وري میاشتې په ۱۳مه نېټه د کلات یو تن پوځي افسر بغاوت وکړ او سرتیري یې پاڅون ته دعوت کړل خو هغه افسر ونیول شو او د پاچا په حکم اعدام شو.
دا مهال یو تن ملا چې اوس له هند څخه راغلی ؤ، ونیول شو او د جاسوسی په جرم اعدام شو. د وري په ۱۴مه نېټه یو تن بهرنی جاسوس هم ونیول شو او خپل جرم یې ومنلو او اعدام شو.
د وري په ۲۳مه نېټه افسرانو او مشرانو د شکایت غږ پورته شو، دوی د دربار له وزیر، محمد یعقوب خان او د ده په څېر له نورو شکایت وکړ چې د پاچا او خلکو تر منځ د اړیکو مانع ګرځي خو پاچا اهمیت ورنه کړ.
د وري په ۲۴مه نېټه د پاچا مخکښ (کشفي) ځواکونه د عبدلاحد خان په مشری غزني ته ننوتل او جګړه یې پیل کړه، دوه ورځې وروسته د وري په ۲۶مه نېټه په خپله پاچا له خپلو منظمو ځواکونو سره غزني ته ورسید.[11]
«د وري په ۲۸مه نېټه، یو تن ملا چې د دُرانیو او غلجیو د ځینو مسایلو په اړه یې غوبښتنلیک وړاندې کړی ؤ، هغه ځیني تر شک لاندې خبرې کولې، عبدلاحد خان غوښتل چې ملا د څېرنو او ګروېږنو لپاره ونیسي خو هغه ناڅاپه هغه تبر چې ورسره ؤ په لاس کې واخیست او د امان الله خان د خېمې پر لور یې منده کړه، نو شک په یقین بدل شو خو ونیول شو. کله چې ویلټل شو نو د هغه کتاب له پوښ څخه چې له ملا سره ورسره ؤ، په انګرېزی ژبه د انګرېزانو یوه تصدیقپانه وموندل شوه چې په هماغه تبرګي چې په لاس کې ورسره ؤ، اعدام شو.»[12]
په غزني کې د حکومت ځواکونو او سقاؤیانو ترمنځ دوولس ورځې (د وري له ۲۴مې د غويي تر ۶مې نېټې) پورې جګړه روانه وه، تر هغو چې د سلیمانخېلو ځواکونه د سقاؤیانو ملاتړ ته نه وو رارسیدلي، دولتي ځواکونه پرمخ روان

---

[8]: د ۱۹۱۹ز، کال د خپلواکی له جګړې وروسته چې د وزیرستان سیمې د انګرېزانو په اشغال کې پاتې شوې نو انګرېزي ځواکونو د وزیرو کورونه له دې امله بمبار کړل چې د خپلواکی جګړه په حقیقت وزیرو ګټلې وه، انګرېزانو د هغو سیمو له خلکو چې عملاً د انګرېزي پوځیانو تر ولکې لاندې وې درندې جریمې ولګولې او د هغو وسلو غوښتنه یې هم وکړه چې په جګړه کې له انګرېزانو غنیمت شوي وې او له شلو زرو زیات انګرېزي پوځیانو په سیمه کې پلي عملیات پیل کړل خو بیا هم د وزیرو قومونه د انګرېزانو پر وړاندې وجګړیدل. د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ د جرنیل یارمحمد خان وزیري کتاب (د خپلواکی او نجات تاریخ) له ۱۰۶مخ څخه تر ۱۱۷ مخ پورې.
[9]: د خپلواکی او نجات تاریخ. ۱۹۱-۱۹۲مخونه
[10]: هماغه کتاب. ۱۹۳مخ

[11]: افغانستان در مسیر تاریخ. ۸۳۳مخ
[12]: میر غلام محی الدین انیس: بحران و نجات. ۱۹۸مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

وو خو کله چي «د غويي په ۴مه نېټه ۵زره وسله وال سليمانخېل چي له وړاندي د همدې ورځي لپاره چمتو کړای شوي وو، د پکتيا څخه د سقاؤيانو مرستي ته راورسيدل او په يو سخت برید سره يې د پاچا ځواکونو ته ماتي ورکړه.[13]
د غويي په ۶مه نېټه د شپې په ۸بجو امان الله خان خپلو ځواکونو ته په ناڅاپي توګه د شاتګ امر وکړ چي له جګړې لاس واخلي او د کندهار پر لور حرکت وکړي.[14]
ها خوا د وزيرستان اتلانو په پوره میړاني سره د امان الله خان ملاتړ ته چمتو شول، انګرېزانو نه شول کولی د وزيرستان ځوانانو مخه په زور سره ډب کړي. هغه وو چي د وزيرستان شپږ زره پنځه سوه لښکر د غزني پر لور وخوځيد چي د ۱۳۰۸ل. ل، کال د غويي مياشتي په ۳مه نېټه د ارګون يوې نږدې سیمي ته ورسيد، له بده مرغه چي په سبا ورځ، د غويي مياشتي په ۴مه نېټه[15] د وزيرو لښکر ته يو بد خبر راغی چي په غزني کې د امان الله خان ځواکونو د سليمانخېلو او اندړو له خوا ماتي خوړلي ده. د وزيرو لښکر د امان الله خان پر ناکامی او بېرته کندهار ته د ستنيدلو له امله ډېر خواشيني او په قهر شو نو د اورګون په سقاؤ پلوه پوځي کلا يې برید وکړ، کلا يې فتح کړه او ډېرې وسلې او مهمات يې غنيمت کړل او بېرته وزيرستان ته ستانه شول.[16]
په پېښور او کوټه کي پښتنو د امان الله خان پر پلوی غونډې جوړې کړي او په تولیزه او ځانګړي توګه يې له امان الله خان څخه ملاتړ پيل کړ، له بده مرغه چي د انګرېزانو لخو د دوی مرستي له مخنيوي سره مخ شوې، انګرېزان د امان الله خان پر ناکامی او د سقاؤ پر کاميابۍ ښه خوشاله وو چي له امله يې خپله خوشالي پټه نه کړای شوه، په دې اړه فخر افغان خان عبدالغفار خان له ډېورنډ کرښي ها خوا د انګرېزي مطبوعاتو او انګرېز پلوه ملايانو د غبرګون په هکله داسي ليکي:«... امان الله خان کندهار ته لاړ، په کابل بچه سقاؤ قبضه وکړه. انګرېزي اخباراتو د افغانستان برخلاف کېښې طعني او خوشالي شروع کړې، نو زه پوه شوم چي پيرنګيان چي په افغانستان کي د پښتنو ترقي ته کتی نه شي نو موږ به ترې دلته په سرحد کي څه ترقي وکړای شو؟ او فوراً مي دا اراده وکړه چي په دې راز، پښتانه پوهول په کار دي او دوره مي شروع کړه کلي په کلي، ښار په ښار او علاقه په علاقه وګرزيدم، جلسي مي وکړې د خدای په فضل ټول پښتون يکدم د خوبه رابېدار شو، پوه شو او د خپل قوم تباهي او بربادي يې محسوسه کړه او د افغانستان د خدمت د پاره يې ملا وتړله په بعضي علاقو کي ملايانو چي څه نه څه مخالفت شروع کړو، لېکن چي د قوم په جذبه پوه شول نو مخالفت يې پرېښود، که بعضي ملايان د خپلو ذاتي فايدو په وجه قلار نه شول نو قوم په زور او بې عزتی د هغوی خولې بندي کړې.»[17]
وروسته له هغي چي فخر افغان، پاچا خان پښتانه له امان الله خان سره مرستي ته چمتو کړل، نو پاچا خان او څو تنه ملګري يې کندهار ته د کوټي له لاري له امان الله خان سره د ليدو او مرستي په موخه روان شول چي په هغو مرستو کي طبي او مالي مرستو شتون درلود خو په لاره کي څو ځلي د انګرېزانو لخوا له سفره وګرځول شول، هغه انګرېز چي د سيوی په رېل ستېشن کي يې پاچا خان له رېل ګاډي کوز کړ، دا مني چي انګرېز حکومت د افغانستان په پېښو کي بېپرې نه دی چي په هکله يې پاچا خان ليکي:... دا ډېر يو شريف پيرنګی ؤ، ما ته يې په خبرو خبرو کي ووې چي زه د دې حکومت په پالیسی نه پوهېږم، يو طرف ته وايي چي موږ غيرجانبدار يو او تاسو ته وايي چي لاړ شئ، موږ له د امان الله خان نه اجازتنامه راوړئ نو تاسو به پرېږدو او بل طرف ته ما له حُکم راکوي چي پام کوه چي دا سړي درنه مخکې لاړ نه شي او بيا تاسو د داسي کار نه منع کوي او ستاسو طبي وفد نه پرېږدي چي په دې کی د خدای د مخلوق د خير نه بل هيڅ شی نشته.[18]
په کوټه کي د پښتنو يو بل مشر، عبد الصمد خان اڅکزی (خان شهيد) د خپلو خاطرو په کتاب (زما ژوند او ژوندون) کي چي ځيني برخي يې صفيه حليم په څو برخو کي په خپله وبپيانه خپرې کړي دي چي موږ په لنډو ځيني هغه برخي را اخلو چي څرنګ انګرېزانو افغانستان ته د دوی د تګ مخه نيولي وه، خان شهيد ليکي:«د ملايانو د غلط تبليغ او ړندو عقيدو سره هم د دوی د سيمي خلک د امير پلويان وو خو ماړه او مخوړ کسانو د انګريز له ويرې څه نه ويل. که هغه وخت يو غښتلي مشر په خلکو غږ کړی وای نو ممکن پياوړی لښکر يې جوړولی شوای.»

---

**13:** افغانستان در مسير تاريخ. ۸۳۴مخ
**14:** بحران و نجات. ۲۰۱مخ؛ افغانستان در مسير تاريخ ۸۳۴مخ
**15:** د غويي ۴مه نېټه سمه نه ده ځکه چي امان الله خان د غويي په ۶مه نېټه له غزني څخه د ماتی په حالت کي کندهار ته ستون شوی ؤ، نباېي وزيرو لښکر ته د غويي له ۶مي نېټي وروسته خبر رسيدلی وي.
**16:** د خپلواکی او نجات تاريخ له بېلابېلو پاڼو څخه
**17:** زما ژوند او جدوجهد. ۳۳۹-۳۴۰مخونه
**18:** هماغه کتاب.۳۴۶مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پاز والي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

هغه مهال چې امان الله خان په کندهار کې ؤ نو خان شهيد عبدالصمد خان کندهار ته د تللو هوډ وکړ، خان شهيد ته د انګرېزانو يو نوکر وويل چې تاسو په پټه کندهار ته مه درومئ، تاسو د انګرېزانو په اجازه ولاړ شئ، انګرېزانو پاچا خان ته هم اجازه ورکړي ده چې سبا ورځ په رېل ګاډي کې کوټې ته راځي.
خان شهيد وايي چې زه هغه ګاډي ته ورغلم او د ګاډي ټولي ډبې مې ولټولې او تپوس مې هم وکړ خو د پاچا خان درک نه و، انګرېزانو پاچا خان په سيوى کې له ګاډي کوز کړی ؤ.
خان شهيد او د هغه د کهول پنځلس غړي يې په کوټه کې پوليټکل ايجنټ (وينګېټ) ته بوتلل، انګرېز ته خبر ورکړای شوی ؤ چې افغانستان ته واړه هلکان روان دي، پيرنګی د يو سپي سره را بهر شو او په زوره يې وويل:«کوم دي هغه هلکان» خان شهيد ليکي: او سپی راباندې وړغاوه، سپې رامنده کړه، زه او سمايل جان وروړاندې شوو خو سپي لکه چې د پرنګي نه زيات سرېټوب لاره او بېرته په شا سو.
په کوټه کې مشرانګرېز په کابل کې د انګرېزانو سفير همفريز په شان د امان الله خان په راتلونکي پوهېده چې د هغه ځواکونه به په غزني کې ماتېږي نو انګرېز اځکزو ته وويل چې زه ستاسو دښمن نه يم، بده مې درباندې پيرزو نه ده، نور څه نه سم درته ويلای خو دا درته وايم چې دومره وګورئ چې امان الله خان له کندهاره ووځي چې څه پېښيږي، هله به تاسي زما په خواخوږۍ پوه سئ.
انګرېزانو دوى ۲۸ ورځې تر څارنې لاندې نيولي وو. غازي امان الله خان له کندهاره د کابل پرلور ووت چې ماتې يې وخوړه.
خان شهيد وايي:«موږ هم نوره ناسته بې ښې وګڼله او پوی سو چې پرنګی خبر ؤ چې څه پېښيږي.»
امير امان الله خان د بولدک په لار چمن ته لاړو او بيا په اورګاډي کې ګلستان سټېشن ته ورسيدو نو بې شميره خلک چې د ده ليدو ته راټول وو، پوليسو وشړل. په دوى کې عبد الصمد خان هم ؤ، دی وايی:«خلکو امان الله خان وليد چې په بندګاډۍ کې په يو بنېن شانته خت (قميص) کې د خپل وړوکي زوی سره ناست ؤ، **هلته راټول ولس چې وليدل نو د سټېشن پر جنګلو واوختل او د هغه ترين چاپېره راټول شول. ډيرو خلکو ژړل، چا ناري وهلې** خو په دې کې د يو بلې ګاډۍ څخه وسله وال پوځيان راښکته شول او په يو قطار کې د خلکو او ګاډي تر منځ ودريدل. دوى د ټوپکو برچې خلکو ته ونيولي او دوى يې تيله کړل. غازی امان الله خان د پښتنو دا بې وسي تر پايه کتله خو په خوله يې هيڅ نه دي ويلي. په زړه کې ګوره چې ارمان کاوه او که يې ويل چې دا نامرده کام [قوم] سره هم دغه وړ دي چې پر وخت ځان نه خبروي او نه پوهوي او بيا نو لکه ښځې ژاړي.[19]
انګرېزانو پاچا خان او خان شهيد ته تر پايه اجازه ورنه کړه چې له ډيورنډ کرښې واوړي او له امان الله خان سره يو ځای شي.
ومولوستل چې انګرېزانو د وزيرستان د لښکر د مخنيوي ډيرې هڅې وکړې خو د انګرېزانو هڅې ناکامې شوې، د امان الله خان له ځوکونو سره د وزيرستان لښکر يو ځای کيدل ډېر مهم ؤ چې بايد په خپل وخت له امان الله خان سره يو ځای شوی وای له بده مرغه چې داسې ونه شول، سره له دې چې غازي يار محمد خان د وزيرستان قومي مشرانو ته، غزني ته د امان الله خان د ځواکونو رسيدلو په هکله دقيقه نېټه، د وري ۲۶مه ويلې وه چې بايد په نوموړې نېټه باندې په غزني کې د وزيرستان لښکر د امان الله خان له ځواکونو سره يو ځای شي خو بيا هم د وزيرستان لښکر له ټاکلې نېټې يوه اونۍ وروسته د ارګون سيمې ته ورسيد، که چېرې په ټاکلې نېټه د وزيرستان سرتيري په غزني کې د امان الله خان له ځواکونو سره يو ځای شوي وای نو د غازي امان الله خان بريا حتمي وه نو بيا به حالت بل ډول ؤ.
هغه ليکونه چې غازي يارمحمد خان د وزيرو مشرانو ته د لښکر راټولولو په موخه لېږلي وو چې بيا په سيمه کې انګرېزانو ته په لاس ورغلي وو او هغوی خپلو مقاماتو ته مخابره کړي، له هغو ټلګرامونو[20] ښکاري چې امان الله خان پلان درلود له کندهاره خپل ځواکونه د ۱۹۲۹ ز، کال د آپريل په ۱۵مه نېټه چې د ۱۳۰۸ ل. کال د وري مياشتې له ۲۶مې نېټه سره سمون خوري، غزني ته ورسوي چې د پلان سره سم امان الله خان د خپلو ځواکونو سره يو ځای غزني ته ورسيد.
د وري ۲۶مه نېټه غزني ته د امان الله خان د ځواکونو رسيدل، انيس د خپل کتاب (بحران و نجات) په ۱۹۸ مخ او غبار په، (افغانستان در مسير تاريخ) ۸۳۳مخ کې هم ياده کړي ده.
پوهيږو چې په هغه زمانه کې د اوس په څېر مخابراتي اړيکو شتون نه درلود، هغه مهال د کندهار او وزيرستان تر منځ يوه اونۍ پلې لاره وه چې غازي يارمحمد خان له کندهاره تر وزيرستان پورې په يوه اونۍ کې رسيدلی ؤ.

---

**19**: د صفيه حليم له ويب پاڼې څخه: زما ژوند او ژوندون. ۶-۷برخه.
**20**: د دغو ټلګرامونو درې ژباړه د غازی يارمحمد خان کتاب (تاريخ استقلال و نجات افغانستان) په ۴مه شميره نښلونه (تعليق) کې لوستلی شی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيز بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

دا ډېره اړینه وه چي د وزیرستان او کندهار ترمنځ منظمې اړیکې ساتل شوي وای، لړترلړه په اونۍ یا لسو ورځو کې د پیغام وړونکو په واسطه مالومات شریک شوي وای، که چېرې د غازي امان الله خان او غازي یارمحمد خان ترمنځ مالومات تبادله شوي وای نو د جګړې پایله د غازي امان الله خان په ګټه وه.

نېټه:۱۳۴۰۲/۶/۲۹ل. ل

**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ